غورځنگ خیال

۲۰۱۲/۰۱/۲۵

# برلین: دافغانستان دکړکیچ یوازینی حل سوله ده!

**دافغانستان دسولی بیارغونی او کلتورکمیټه او د آلمان په پارلمان کی د سوسیال ډیموکرات ګوندګډه ناسته!!!**

د۲۰۱۲ کال دجنوري میاشتی په ۱۸ نیټه،مازدیګرمهال دآلمان دسوسیال ډیموکرات ګوند دنړۍ وال سیاست، سولی او پرمختیاکمیسیون او دافغانستان دسولی، بیارغونی او کلتور دکمیټی ګډه غونډه د برلین د پارلمان په ودانۍ کی جوړه شوه.
دسوسیال ډیموګرات ګوند د لس ګونوغړو برسیره، افغان پیژندل شوی حقوق پوه ښاغلي استاد روستارتره کي، د آلمان له نوروښارونو څخه راغلوافغان سیاست والو، برلین میشتوافغانانو او محصلینوپه دی غونډه کی ګډون کړی ؤ .
په دی غونډه کی په افغانستان کی په روان کړکیچ، په افغانستان کی د(آیساف) د وظایفو د اوږدیدو او دآلمان د نظامي قواوو د ماموریت په باره کی هراړخیزبحثونه وشوه
دغونډی په پیل کی ښاغلي ډاکټر ګل رحیم ساپي راغلوګډون کونکوته ښه راغلاست ووایه او دغونډی اجنډایی برخه والوته واوروله. نوموړي د افغانستان په اوسني وضعیت او حالاتو هراړخیزه رڼاواچوله، چی د حاضرینود پاملرنی وړوګرځیده.
د افغانستان او پاکستان لپاره د آلمان د سوسیال دیموکرات ګوند د ضربتي ډلی غړی او ویان.Johannes Pflug, M.d.B ، د برلین ګروپ ویانده، د المان په پارلمان کی د سوسیال دیموکرات ګوند دپارلمان غړی.Mechthild Rawert, M.d.B ، د برلین د ګروپ نه دآلمان دپارلمان د (SPD) دګوند دوه نورغړي  Swen Schulz او Petra Merkel  دغونډی نور  ویناوال وچی په ټوله یی پرلاندی مسایلوبحثونه وکړل:

تر۲۰۱۳وروسته کله چی د آلمان پوځیان له افغانستان څخه وځي، د افغانستان د ملکي حکومت د ملاتړ لپاره څنګه پالیسي غوره شي. دوی ته مهمه مسأله د افغانستان بودیجه ده چی افغان حکومت نه شي کولای خپله بودیجه د خپلوکورنیوعوایدو له لاری ترلاسه کړي. د دوی سره ترټولو لویه اندیښنه نظامي بودیجه وه چی څنګه وتوانیږي د افغان حکومت سره په دی برخه کی خپله ستراتیژي تدوین کړي.
په تیره میاشت کی د ځینوافغاني سیاسي کړیو په هغه غونډه هم خبری وشوی چی په برلین کی د(آسپین انستیتوت) له خواجوړه شوی وه. دسوسیال ډیموکرات ګوندغړو دغه غونډه داهمیت وړ ونه بلله او په ډاګه یی کړه چی په دغه غونډه کی افغاني اړخ دټولو افغانانو استازیتوب نه شي کولای.
ترډیرو بحثونو وروسته دوی په یوه خوله وویل چی د افغانستان دکړکیچ  یوازینۍ حل سیاسي حل لاره ده او بایدټولی هلی ځلی د مخالفو وسله والوسره د سولی پر پروسه متمرکزی شي .
په همدی ډول یی په نورو موضوعاتوهم خبری وکړی.
آغلی لیلاچی دفرانګفورت څخه دهغه ښار د ښځو د ټولنی په استازیتوب راغلی وه، د موضوع اړوندیی خبری وکړی.
هغی په هیوادکی د ننه د ښځو د حقونو پرحالت رڼاواچوله او زیاته یی کړه چی د بهرنیو ځواکونو تروتلو وروسته به د ښځوحقوق بیرته ترپښولاندی شي. نوموړی زیاته کړه، چی بهرنیوکړیوځود ګوتو په شمار جنایتکاران په افغان ولس برلاسي کړي او ترڅوچی دوی خپلی دغی ناوړی کړنی ته د پای ټکی کی نږدي د یوباثباته افغانستان جوړول ممکن نه دي .
میرمن الهام مسعود آزاده ژورنالیسته او دفرانګفورت ښار د ښځو د ټولنی غړی هم بله ویناواله وه چی د موضوع اړوندیی اوږدی خبری وکړی. د نوموړی خبری ډیروبرخه والوته په زړه پوری وی. هغه دښځو د حقوقو په هکله سخته ناهیله وه او په افغانستان کی یی د ښځو د حقوقو پایمالول چی د ډیرپخواڅخه جاري دي د اندیښنی وړوبلل.
دآلمان د مګډیبورګ ښار څخه ښاغلی انجنیرسیدعبدالقادرهم دغونډی بل برخه وال ؤ چی خپلی اندیښنی یی دغونډی له برخه والوسره شریکی کړلی. هغه په افغانستان کی د سولی د ژر راتلولپاره داسی یووړاندیزدرلود: چی د ملګروملتونو ترمشرۍ لاندی دی دجګړی د دوواړخونو سربیره دملي او ډیموکراتیکو شخصیتونو په ګډون یوه جلسه جوړه کړل شي، چی پریکړی یی دملي ګټوپه پام کی نیولوسره وټولو اړخونوته دمنلووړوي او ترڅنګ دی یونړیوال تضمین هم واخیستل شي، چی په راتلونکو وختونوکی بیا د افغانستان په چاروکی د نورو ملکونو واکمنان هیڅ ډول لاسوهنه ونه کړي.
ډاکټرعثمان تره کی دغونډی ځانګړی میلمه ؤ هغه هم خپله عالمانه وینا ګډون والو ته واوروله، چی د وینا ځینی برخی یی دلته را اخیستل شویدي



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

که دشوروي اتحاد واحد اومتجانس پوځ په دی باندی بریالی نشوچی افغانستان لاندی کړي، په ډاګه ویلای شوچی د ناټو کثیرالاضلاع اوغیرمتجانس پوځ هیڅکله دجګړی دلاری خپلومقصدونوته رسیدلای نشي. د وسله وال مقاومت سره خبری اتری چی اوسمهال ترلاس لاندی دي دجګړی دپای زیریځ ورکوي او د دی زمینه برابروي چی:
دافغانستان ملي واکمني تأمینه شي.
دافغانستان دننه سوله اوسیاسي ثبات برقراره شي.
دجګړی لګښت بیارغونی ته ځانګړی شي.
کوم پښتانه چی دډیورند په دواړوخواووکی د وسله وال مقاومت د ملاتیرجوړوي، د دوی سره پخلاینه، د دی لامل ګرځي چی د پښتونخوا په سیمه کی د ناټو د لوژیستیکي لاری امنیت تضمین شي.
دلنډی مودی په ترڅ کی چی ناټوپه افغانستان کی نظامي حضورلري، د جګړی استقامت د تروریزم اصلي مرکزونوته را اړولای شي.
افغانستان به دی ته چمتو وي چی دیومتساوي الحقوق پارتینر په دریځ کی دخپلوملي ګټوپه نظرکی نیولو سره، د بهرنیوقوتونو، لنډ مهال حضور ومني، په دی شرط چی دغه حضور د کورنیو او نړیوالو قوانینو په درناوی او د یو ملي واکمني له لاری تنظیم شي. ملي واکمني به  د وسله وال مقاومت په توافق د ناپییلو تکنوکراتانو په ترکیب د یو لنډ مهاله حکومت دلاری تمثیلیږي.
په افغانستان کی د ناټو حضور په سیمه کی حساسیتو نه راپارولي دي. افغانستان د نړیوالو او سیمه ییزو سیالیو او ټکرونو په میدان بدل شوی دی. خو لنډ مهاله واکمني به دنده ولري چی دبهرنیانو لنډ مهال حضور د سولی او د سیاسي ثبات سره وتړي.
ځینوافغاني سیاسي کړیودی ته چمتوالی ښودلی دی چی دسولی د یومنظم پلان چی په کی دیولنډمهال حکومت جوړول ځای لري دجګړی اړخونوته وسپاري اوپه عملي توګه دسولی په پروسه کی رول ولوبوي.
غونډه ناوخته ماښام د استاد روستار تره کي له خبرو وروسته  دافغانستان دسولی بیارغونی اوکلتور د کمیټی  د مشر ډاکټر ګل رحیم ساپي  له خوا چی  ویل یی  «دا کمیټه به  تر دی وروسته نور هم خپلو هلو ځلو ته دوام ورکوي او د آلمان د نورو مسولینو او چارواکو سره به په آلمان کی دنورو افغانانو اوسیاستوالو په ګډون او ملګرتیا ګډی غونډی او سیمینارونه  دایروي. د افغانستان دسولی بیارغونی اوکلتورکمیټه  به  د خپلو موخو او اهدافو د سرته رسولو په  لاره کی ستاسو حاضرینو او افغانانو غوښتنی او پیشنهادونه را ټول او په ګډه به  غور  ور باندی کوو .» پای ته ورسیده.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ